DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزطي خپلواکه ورځپانه

سال پنجم شماره ۱۸۸
شماره مسلسل ۸۱۴
پنجشنبه ۱۳ اسد ۱۳۸۴ هـ ش
۲۸ جمادی‌الثانی ۱۴۲۶ هـ ق
4 August, 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

افزایش شدید حملات علیه مسلمانان

براساس ارقامی که اسکاتلندیارد منتشر کرده است جرایمی که انگیزه آنها تنفر مذهبی است از زمان بمبگذاری های روز هفتم جولای لندن شش برابر شده است

طارق غفور، بلندپایه ترین افسر آسیایی تبار پولیس بریتانیا می گوید که عملیات بازرسی از مردم در جاده ها و وجود سوءظن نسبت به تاکتیک های پولیس برای جلوگیری بمبگذاری های انتحاری باعث برانگیخته شدن خشم مسلمانان در ابعاد بی سابقه شده است ص۴

دامریکی نوی کمپاین



دامریکا متحده ایالات پوځي او ملکي چارواکي په افغانستان او پاکستان کې د القاعدې د مشر اسامه بن لادن . دده دمرستیالډاکټر ایمن الظواهري او د طالبانو دمشر ملا عمر دنیولو لپاره نوی مطبوعاتي کمپاین پیلوي ۴مخ

سرمقاله

د وارداتی مافیا لاس باید ونیول شي

دولت دهیواد په دننه کې دازاد بازار درامنځته کولو په برخه کې دخصوصی سکتور پیاوړتیا او دنړی له هیوادونو څخه په تیره بیا له کاوندیو هیوادونو څخه دواردااتو د رازیاتولو برخی ته ځانګړی پاملرنه کړیده.

په هیواد کې یې دکورنیو او بهرنیو سوداګرو لپاره که څه هم دپانګې د اچولو په برخه کې تل داسانتیاوو درامنځته کولو غږ پورته کړی دی او په زرونو جوازونه یې سوداګرو ته ویشلی او ورکړی دی خو تر اوسه پورې چې دموقتي دورې له پیل څخه دا دی نړۍ څلور کاله پوره کیږي دواردااتو پله درنیږي او دهیواد په دننه کې داړتیا وړ تولیداتو درامنځته کیدو په باره کې ستونزې دېیلابیلو لاملونو له امله حل شوی نه دی.

په هیواد کې دصادراتو او وارداتی فکتورونو ترمنځ اندول اویا دصادراتو دبرخی زیاتوالی تر هغه نشی رامنځته کیدای تر هغه چې ددولت دارونډی برخی مسلکی مسوولین په هیواد کې دسراسری امنیت دتامین په شرایطو کې دپانګو داچولو لپاره مساعد شرایط برابر نه کړی او په وارداتی برخه کې دمافیا لاسونه لنډ نه کړی.

څکه چې دواردااتی برخی دمافیا کارکوونکی ددې لپاره چې دواردااتی سوداګرو لپاره دکارکولو لپاره په هیواد کې دازاد بازار له شته والی څخه په استفاده دهیواد په دې اوسنیو شرایطو کې چې پوره بیروکراسی خپل سری او دکنترول او څارنې نشتوالی وجود لري د زیاتې کتې دلاسته راوړلو زمینه برابره کړی ۴مخ

ناظران اتحادیه اروپا برای نظارت بر انتخابات

گروهی از کارشناسان اتحادیه اروپا به منظور نظارت بر روند انتخابات پارلمانی وارد کشور شده اند. ص۴

تلاش برای اتحاد کاندیدان مستقل ادامه دارد

اتحادیه کاندیدان آزاد . ملی و دموکرات تلاش برای یکجا شدن و همکاری کاندیدان مستقل ولسی جرګه و شوراهای ولایتی را آغاز نموده اند

حدود شش هزار تن کاندید مستقل و مربوط احزاب خود را برای انتخابات ولسی جرګه و شوراهای ولایتی که قرار است به تاریخ ۲۷ سنبله برګزار گردد. کاندید نموده اند

اتحادیه کاندیدان آزاد . ملی و دموکرات از سه ماه بدینسو به کار آغاز نموده است و ۳۵۰ عضوء دارد

رییس این اتحادیه تاکنون انتخاب نشده است و کارهای آن توسط دارالانشاء موقت به پیش برده میشود

اکرم خپلواک. عضوء این اتحادیه و کاندید ولسی جرګه از ولایت پکتیا به آژانس خبری پژواک گفته است که آنها با کاندیدانی که در ولایات شان احساس خطر میکنند در بلند نمودن صدای آنها و در امور تخنیکی کمک میکنند

قرار ادعای خپلواک . آنها کوشش میکنند که به کاندیدانی عضویت بدهند که درګذشته متهم به جنایات جنګی و قاچاق مواد مخدر نباشند.

به گفته خپلواک . این اتحادیه متشکل از اشخاص ملی میباشد . غیر وابسته بوده و تنها به حمایت مردم به پیش میرود

ابوالحسن احسانی. نماینده شورای ولایتی حزب حرکت اسلامی در میدان وردک. فعالیت این اتحادیه را به این شرط خوب میداند که به تعبیر وی نفع ملت در آن محفوظ باشد

موصوف افزود: « ما کدام اعتراض خاص نداریم هر قدر که کاندیدان متحد شوند و خدمتګذار مردم باشند ما از آنان استقبال می کنیم » ص۴



انتقال سلاح سنګین از پنجشیر ازسر گرفته شد

جمع آوری و انتقال سلاح سنګین از ولایت پنجشیر که بنابر مشکلات اقلیمی متوقف شده بود .به تاریخ یازدهم اسد طی برنامه آغاز نو افغانستان از سرګرفته شد. ص۴

پاکستان سرحدي ځواکونو ۷۵ تنه افغانان ونیول

۷۵ تنه افغانان د پاکستان سرحدي ځواکونو لخوا د زمري په ۱۱ مه نېټه د بلوچستان ایالت په سرحدي سیمه چمن شیلا باغ کې هغه مهال نیول شوي دي چې ددوی په وینا . په نا قانونه توګه پاکستان ته را اوښتي وو. د سرحدي ځواکونو یا ایف سي یو تن چارواکی پژواک خبري آژانس ته ویلي چې ددوی ځواکونه په پوله دګزمې په حال کې وو چې دغه افغانان یې ونیول.

دغه چارواکي وویل چې دغه افغانان له رسمي دروازې ځخه پرته په نورو ناقانونه لارو د راوړیدو پر مهال چې د پاکستان خاورې ته داخل شوي وو ، نیولي شوي دي چې هیڅ قانوني اسناد یې نه لرل ۴مخ

هلمند کې دټاکنو ددفتر یو کارمند ووژل شو

په هلمند ولایت کې دټاکنو د دفتر دعامه پوهونې یو کارمند دنامعلومو وسله والو لخوا وژل شوی دی ۴مخ

اهالی کشک کهنه، خواهان برکناری ولسوال آنجا میباشند

یکعده نماینده گان و اهالی ولسوالی کُشک کهنه ولایت هرات، ولسوال آنجا را متهم به جمع آوری رای برای اقاربش درانتخابات پارلمانی نموده و خواهان برکناری او شده اند. ص۴

ملک فهد در گوری بی نشان آرمید

ملک فهد پادشاه عربستان سعودی که روز دوشنبه درګذشت در مراسم ساده ای به خاک سپرده شده است.

روز سه شنبه، مراسم نماز و تدفین و دعا برای ملک فهد بن عبدالعزیز، پادشاه فقید عربستان سعودی، با حضور جمعی از مقامات عالیرتبه کشورهای مختلف در ریاض، پایتخت عربستان، برګزار شد.

ملک فهد روز دوشنبه بعمر ۸۴ سالګی پس از یک بیماری طولانی و حدود بیست و سه سال سلطنت در شفاخانه ای در ریاض درګذشت . ص۴

برادری، برادرش را پارچه پارچه کرد

شخصي که برادر خود را ، با کارد و تبر کُشته و جسدش را پارچه پارچه نموده بود ، عصر ۱۱ اسد توسط پولیس دستګیر شد.

سمونوال محمد نور (نیکزاد) آمر بخش مطبوعاتی قوماندانی امنیه ولایت هرات، به آژانس خبری پژواک گفته است ،که بصیر احمد ۲۶ ساله مسکونه قریه (جغرتان) ولسوالی انجیل، که نیمه شب برادر خود وکیل احمد ۳۳ ساله را به قتل رسانده و جسدش را قطعه قطعه نموده و در منزل خود دفن نموده بود به همکاری همسایه ها دستګیر گردید ص۴

نقش کشور های همسایه در استحکام امنیت وثبات سیاسی افغانستان

محمد امین (فروتن)

پیوسته به گذشته

مؤقعیت استراتیژیک افغانستان از نظر روسیه ء شوروی هیچگونه تردیدي وجودنداد که حزب بلشویک روسیه قبل از پیروزي انقلاب اکتبر در تمامي زمینه هاي سیاسی ، اقتصادي ، فرهنگي داراي یک برنامه ء تمام عیار و بنیاد یي را جهت رهبری جامعه ء روسیه نداشت که علی الرغم آن به تد ریج آن شعار های شور انگیز و توده پسند انتر ناسیونالیستی باقیمانده که بیشتر بر مبنای ، نقد تیوریکي نظام هاي حاکم استوار بود ، آرام ، آرام در بازي قدرت و نبرد منافع کشور هاي همجوار فرو رفتند ، و موجب بیشترین خسارات و زیانهاي جبران ناپذیر تاریخی برای تمامی نهضت کارگري جهان گردید . رهبران طراز اول حزب کمونیست شوروی سابق به شمول بنیانگذار انقلاب اکتوبر « ولادیمیر ایلیچ لنین » به جایی ارایه ء دکتورین جدید امنیتی و سیاسی برای رهبری کشور بزرگی که نخستین بار بنام دیکتا توري پرولتاریا در جهان به قدرت رسیده بود ، همان سیاست های ظالمانه و استعماری دوران تزار را بحیث دکتورین نظامی و امنیتی در سیاست خارجی روسیه شوروی پذیرفتند میتوان گفت که اتحاد جماهیر شوروی به بسیار زودی بنام حاکمیت طبقه ء کارگر در کشور روسیه بحیث پایگاه مهم صدور مارکسیزم و لنینیزم معرفی گردید این شیوه ء به اصطلاح پراتیکی انقلابی که به عنوان اصول دست نا خورده ء متون مارکسیسم و لنینیسم در جامعه عرضه شد ، بسیاري از پیروان راستین این اندیشه را دُچار وسوسه ساخت بدین ترتیب با پیروزي حزب کمونیست چین که رهبران آن نیز دچار همین گونه بحران تیوریکی گردیده بودند حزب کمونیست روسیه ء شوروی را به تجدید نظر طلبی در مارکسیسم و لنینیسم متهم ساخت . ماؤزیتونگ رهبر انقلاب چین که پس از سالها جنگ در کشور پهناور چین انقلاب سوسیالیستی ، در چین را بر مبنای همان اندیشه های مارکسیستی ، لنینیستی به پیروزي رسانده بود نتوانست خلای اتخاذ یک دکتورین نوین سیاسی و امنیتی را در مناسبات با جامعه ء جهانی ارایه کند ، البته ماؤزي تونگ توانست تحلیل ها ی حزب کمونیست چین را که در زمان وی در جامعه ء چین ارایه گردیده بود ، در کنار مارکسیسم ، لنینیزم تحت نام مأویزم به جهانیان بویژه به هواداران خود در کشور هاي آسیایی عرضه کند روی همین جهت دکتورین اکثریت احزاب مارکسیستی و چپ در کشور های جنوب و جنوب شرق آسیا مانند نیپال ، فلیپین ، تبت وسائر کشورهاي که زیر نفوذ استعمار غربی با روحیه ء ناسیونالیسم افراطی و ضد استعماری جهانی بر خوردار بودند روی همین انگیزه اکثریت سازمانهای انقلابی و جریانهای چپ مارکسیستی که در کشور های همجوار چین بر علیه اشغالگران و متجاوزان خارجی میرزمیدند ، شعار مشترک " سیاست از لو له اي تفنگ بر مي خیزد " که از همان شعار های مبارزاتی هواداران ماؤزی تونگ در انقلاب چین محسوب میشد حین برگزاری تظاهرات و گردهم آیی ها تکرار میکردند روسها از سالها قبل براي نفوذ و تثبیت مؤقعیت خود و رسیدن به اهداف سیاسي شان ، به افغانستان نظر داشتند که در همین زمینه به تجاوز های عمده ء روسها به افغانستان میتوان اشاره کرد ، اشغال جزیره ء او رتا تاکی در دریای آمو که در سال ۱۸۷۲ میلادی توسط روسها به اشغال درآمده بود ، سرکوب خونین شورشیان مسلمان که در سال ۱۹۱۹ میلادی بنام " با سماچیها " و ضد انقلاب بلشویکی در مناطق آسیای مرکزی از پا درآورده شدند قلمرو " خیوا ، مرؤ ، و بخارا " توسط سربازان سرخ عملاً به اشغال درآمد و برملاترین تجاوز روسها بر افغانستان در دسامبر ۱۹۷۹ بوده که به اشغال ده سال این کشور انجامید میتوان گفت که همین مؤقعیت استراتیژیک افغانستان مؤجب بوجود آوردن رقابت میان دو ابرقدرت گردیده بود . و رسوبات این گونه رقابت ناسالم میان دو قطب بزرگ جهان را در حالیکه ظاهراً یک قطب آن یعنی اتحاد جماهیر شوروی از صحنه کنار رفته است تا هنوز هم بر معا دلات وتحؤلات استرا تیژیک در منطقه تأثیر افگنده است که نگرش به این رقابت ها میتوان اهمیت این کشور را از نظر دو غؤل جهانی مشخص سازد چنانچه قبلاً اشاره گردید پیروزی انقلاب اکتوبر علی الرغم اینکه در زمینه هاي آن روزگار ساختار داخلی جامعه تغییرات بنیادینی را بجا گذاشت اما در مناسبات با جهان و منطقه ، دکترین امنیتی دوران روسیه ء تزاری را که یک استراتیژی استعماری کهن بوده ملاک تمامی مناسبات و ارتباطات با جهان آزاد قرار داد . از اینکه مارکسیزم به حیث یک اندیشه ء نقادانه ء اقتصادی از سوی کارل مارکس فیلسوف آلمانی در قرن نوزدهم در شرایطی که سراسر اروپا در آتش حکومت کلیسا میسوخت و آن فیلسوف نامدار به کمک ویاری یک دانشمند دیگر انگلیسي تبار آقاي انگلس تز مبارزه به حاکمیت کلیسا را با نوشتن آثار گوناگونی در زمینه های اقتصاد ، وفلسفه آغاز کردند و جمله ء معروف اش که «دین آفیون ملتهاست » را به خاطره های تمامی فعالان سیاسی و اجتماعی آن روزگار

ادامه دارد

کارت ثبت نام خود را محفوظ نگهدارید
در انتخابات آینده به آن ضرورت دارید
خپل دنوم لیکنې کارتونه خوندي وساتئ
دراتلونکو انتخاباتو لپاره ورته اړتیا لرئ
کارت هویت
رای دهندگان
2003-2004
T99036691
T9903669
اگر شما نیاز به معلومات بیشتر در باره انتخابات ولسی جرگه و شورای ولایتی دارید، بطور رایگان به شماره 180 زنگ بزنید. کارمندان انتخاباتی مرکز معلومات رای دهندگان به سوالات شما همه روزه از شنبه تا پنجشنبه از ساعت 7 صبح الی 7 شام پاسخ خواهند داد.
که چېرې ټلسو عوارې چې د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په هکله لا زیات معلومات تر لاسه کړئ، مهربانې وکړئ د ۱۸۰ شمېرې ته وزېرئ تلیفون وکړئ.
د رایې ورکوونکو د معلوماتي مرکز د ټاکنو کارټوونکي به ستاسو پوښتنو ته د شنبې له ورځې څخه د پنجشنبې تر ورځې پورې، د سهار له اوو بجو څخه د مازیګر تر اوو بجو پورې ځوابونه ووایي.
کشور ما، آینده ما، رای ما
زمونږ هېواد، زمونږ اتلونکي، زمونږ رایه

متصدی: سباوون

د بیا رغاونې په لور

د پاکستان د بلوچستان ایالت په پنډغالو کې میشت افغان کډوال، افغانستان ته د تګ لپاره اوسنی وخت مناسب نه ګڼي او وایي چې باید نوموړي پنډغالي تر یو ه کال پورې و نه ټړل شي.

د پاکستان حکومت د امنیتي اندیښنو په اساس د نورو افغان کډوالو د پنډغالو په څېر د اګست میاشت ترپای پورې د پشین او چاغي د پنډغالو دبندولو اعلان کړی دی.

اسلام اباد کې د افغان کډوالو کمشنري سره د خبرو لپاره راغلي د پشین او چاغي د پنډغالو د اوه کسیزې ډلې ویاند محمد ایوب ویلي چې دامهال افغانستان ته ددوی د ستنیدو حالات نه دي برابر، لازمه ده چې لږ تر لږه نور یو کال وخت هم ورکړل شي چې افغانستان کې د خپلې اوسیدنې لپاره تیاری وکړي. دا ځکه چې تر اوسه پورې په هیواد کې لامل دی چې تیرکال ژمي کې وطن ته د ستنو شویو ډیرو کډوالو واړه د سړو له امله مړه شول.

اسلام اباد کې هم د افغان کډوالو د کمشنری مشر جهانګیر خان وویل چې ددوی ستونزې یې نه ده او د هیواد اقتصاد هم کمزوری دی د کډوالو وطن ته لیږل انصاف نه دی

حاجي جمیل زیاته کړه: «زیاتره کډوال چې له دې ځایه ستنیږي افغانستان کې نه پټی لري او نه کور همدغه مشکلات او غوښتنې د اوریدلي او ژر به یې صوبایي او مرکزي چارواکو سره شریکې کړي

جهانګیرخان زیاته کړه: «موږ به د خپلو اداري ذمه واریو سره سم د کډوالو د دغه پلاوي مشکلات او غوښتنې د صوبایي او مرکزي حکومتو غوږونو ته ورسول شي او د فیصلې اختیارېې له هغوی سره دی.»

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د اداري یو این اچ سي ار اداري ویاند بابر بلوچ ویلي چې د امنیت د ستونزو له امله دغه سیمو ته ځان رسول او کډوالو ته د تعلیم، روغتیا، د څښکلو د اوبو او نورو اسانتیاوو رسول ستونزمن کار دی.

بابر بلوچ وویل: «کوم افغان کډوال چې نه غواړي وطن ته ستانه شي دوی له کوټې سره نږدې محمد خیل پنډغالي ته ولاړشي او هلته دې ووسیږي.»

د یو این ایچ سي ار ویاند زیاته کړه چې محمد خیل پنډغالي ته د تللو پرمهال به کډوالو ته د لارې لګښت دوی ورکوي.

خو اصل خبره داده چې ولي زمونږ کډوال خپل وطن دراتللو زړه نښه نه کړل او تر څو په دوی په پردیو هیوادونو کې پراته وی ددولت اړوند ارګانونه ولی دبیا جوړولو په برخه کې کمزوری راغلی دی که چیرې زړه سوی موجود وی کیدای شي چې زر وطن ودان شي او مسافرخپل هیواد ته راشي.



بلوچستان کې میشت افغان کډوال یېرته ستنیدو ته زړه نه کوي

روغتیایي خدمتونه باید په وړیا توګه وي

تیرو جګړو زمونږ خلك له زیاتو بدبختیو سره لاس ګریوان کړي نه یوازې دا چې زمونږ خلك د هیواد له خوږې غیږې څخه پردیو او ګاونډیو هیوادونو ته مهاجر شول بلکې له زیات اقتصادي ستونزو هم مخامخ شوی دی. په تیرو جګړو کې زمونږ روغتونونه خراب اولـه نیمګړتیاوو سره مخامخ شوی دی د هیواد خورو ورو سیمو له دی امله چې غرنی دی له یوې سیمې څخه بلې ته د تللو امکانات او هغه هم چې ناروغ ورسره وي له ستونزو ډکه خبره ده.

په هیواد کې د مرکزي اداري په رامنځته کیدو سره د خلکو هیله داوه چې په هیواد کې به دنورو بیا رغاونو تر څنګ د روغتونونو او کلنیکونو اسانتیاوې رامنځته شي او هیوادوال به په دې تنګو اقتصادي ستونزو کې پاکستان ته له تګ څخه خلاص شي هیوادوال پدې هیله وو چې په هیواد کې به ورته په وړیا توګه د تداوی اسانتیاوی لازیاتی او برابري شي.

د اساسي قانون په تصویب کې چې د خلکو تاکل شوي استازې راغلی وو پریکړه یې وکړه چې په هیواد کې تداوي په وړیا توګه شي.

د هیواد د اساسي قانون په ۵۲ ماده کې ولیکل شول چې دولت باید د ناروغیو د وقایي او علاج وسایل او د ټولو اتباعو لپاره وړیا روغتیایي اسانتیاوې د قانون له احکامو سره تامین کړي.

خو دولت د خپل جوړیدو راهیسې په دومره موده کې په دې ونه توانیده چې خپل روغتونونه د باندنیو مرستو په بنیاد سمبال کړي همدا اوس سره لدې چې د ځینو موسسو له خوا د هیواد په بیلا بیلو سیمو کې کلینکونه تش په نامه جوړ شوي دي او ناروغانو ته لکه څنګه چې لازمه ده نه یوازې دا چې د ناورغی مطابق درمل په واك کې نه ورکول کیږي بلکې صحی چاری هم ورځخه لري دي.

دغه راز لازمه ده او باید وي چې د هیواد روغتونونه د ناروغانو په واك کې وی او هر ناروغ بیله دی چې واسطه ولري د روغتونونو له اسانتیاوو څخه استفاده وکړای شي خو داسې لیدل کیږي چې لاتر اوسه پورې زمونږ په روغتونونو کې په چلندونو کې بیا رغاونه نه ده شوی. داکتران په بیلا بیلو پلمو غواړي چې د ناروغانو په تداوی کې سهل انګاري وکړي د شپې له خوا د ناروغانو پوښتنه په سمه توګه نه کیږي ناروغان مجبوریږي چې په قرض او پور پیسې پیدا کړي او شخصي معاینه خانو ته ورشي او د داکترانو په معاینه خانو هم د اړوندو ادارو له خوا څارنه او کنترول نشته د هر داکتر فیس له سلو څخه نیولی تر دریو سوو پورې رسیږي او لدې څخه به لا دا چې هر پوهاند صاحب داسې دوا په نسخه کې لیکي چې یوازې په څنګ درملتون کې پیدا کیدای شي او بس. او هغه هم په هره بیه چې زړه یې وغواړي پلورلي یې شي همدا اوس چې په کابل کې د وزیر اکبر خان روغتون چې له ۱۳۴۳ کال راهیسې یې په فعالیت لاس پورې کړی دی د امریکا د لومالندا په پوهنتونو پورې ارتباط پیدا کړ ځینې روغتیایي خدمتونه یې د پیسو په مقابل کې شول.

له نوموړي پوهنتون څخه به لس ماهرین د وزیر اکبر خان روغتون ته معرفي شي او په نوموړي روغتون کې به د افغاني داکترانو د تخصص د اکمال په برخه کې مرسته وکړي، لابراتواري، تلویزیونی معاینات د زړه ګراف عکس او نور معاینات به د پیسو په مقابل کې اجراء کیږي دا خو یوه دولتي شفاخانه وه منو چې په هیواد کې ازاد بازار رامنځته کیږي کیدای شي شخصي کلینکونه جوړ شي. د ازاد بازار د اصولو مخې حق په جانب یې بللای شو خو دهیواد په اوسنیو شرایطو باید چې د هیواد والو لپاره مجاني تداوي رامنځته او د اساسي قانون د اصولو مخې اجرااتو وشي.

په صنعتی پارکونو کې د بریښنا ستونزې

ددې لپاره چې مونږ وکړای شو له بهرنیو هیوادونو څخه د وارداتي مالونو له راوړلو خلاص شو او د هیواد په دننه کې خپلې اړتیاوې پوره کړو او یا وکړای شو د صادارتو پله د نورو هیوادونو په ګټه واړاوو زیاته کړو نو د هیواد په دننه کې د تولیدي شرکتونو او فابریکو زیاتوالی او تولید ته باید ځانګړې پاملرنه وشي.

همدا اوس د بهرنیو او په ځانګړې توګه د ګاونډیو هیوادونو د تولیداتو لپاره زمونږ په هیواد کې په زړه پورې او تود بازار ځکه جوړ شوی دی چې هره ورځ د هیواد له بیلا بیلو بندرونو څخه د میلیونو ډالرو په ارزښت وارداتي مالونه هیواد ته داخلیږي او پدې توګه زمونږ خپلې پیسې د بهرنیو جیبونه ته روانې دي د خصوصي سکتور په برخه کې د تولیدي فابریکو او شرکتونو شته والی زمونږ په اقتصادي پیاوړتیا او د جنسونو په ارزانی کې مهم رول درلودای شي خودا کار هغه وخت کیدای شي چې دولت ددغه سکتور د پیاوړتیا او انکشاف لپاره کارونه تر لاس لاندې ونیسي او د دوی غوښتنې په خپل وخت سرته ورسوي همدا اوس زمونږ د خرڅې پلې په صنعتي پارکونو کې د زیاتو فابریکو له خوا شکایتونه موجود دي چې هغوی د خپلو کارونو او تولید لپاره زیات وختونه بریښنا نه لري که څه هم د فابریکو څښتنان کولای شي چې قوي جنراتورونه ولګوي خو ددې کار په کولو سره زمونږ خپل جنسونه بیرته ځکه قیمته تمامیږي چې د تیلو بیه پرې اچول کیږي او د کارکوونکو معاش او لګښتونه هم پدې ورزیاتیږي.

په صنعتي فابریکو کې د بریښنا ستونزې نه یوازې دا چې د جنسونو د بهر د لوړوالی سبب ګرځي بلکې ډیری صنعتی فابریکي له خپلې تولید څخه هم ودریږي همدا اوس د خرڅې پلې صنعتي پارک چې ۲۵ فابریکو تولید کاوه اوس یې ۱۳ فابریکي له تولید څخه پاتی شوی دي د بریښنا وزیر ژمنه کړی وه چې ډیر ژر به د بریښنا د پوره کولو په برخه کې خپل اجرااات د هیواد والو په مخ کې کیږدي او د بریښنا ستونزې به تر زیاتی اندازې پوری حل شي.

خو تر اوسه پورې نه یوازې دا چې په کابل ښار کې د ورانو سیمو د خلکو ستونزې حل شوی نه دی د صنعتی پارکونو ستونزې چې د هیواد په اقتصادي پیاوړتیا کې مهم رول لري رامنځته شوی او ورځ په ورځ ډیریږي که چیرې د داسې تولیدي فابریکو د تولیداتو د رامنځته کیدو په برخه کې ستونزې حل نشي ویلای شو چې زمونږ نور پانګوال چې غواړي خپلې پانګې په کار واچوي د پانګو له اچولو څخه به ډډه وکړي ځکه چې د پانګو د اچولو لپاره ځای سرک بریښنا او اوبو ته اړتیا موجودوي او هره یوه چې سرته نه رسیږي د فابریکو د تولیداتو کموالی او ان چې ودریدل یې رامنځته کولای شي. که څه هم له ګاونډیو هیوادونو څخه دبریښنا درالیږدولو په هکله ددوه اړخیزې موافقې له املـه تصمیم نیول شوی خو وګورو چې څومره دغه کار ژر سرته رسیدای شي او څومره به هیوادوال تري عملی ګټه واخلي.

ظظران اتحادیه اروپا...

این ناظران، از میان ۱۸ کشور عضو اتحادیه اروپا انتخاب شده اند.

پیش از این نیز در ماه گذشته، گروه دوازده نفری ناظران اتحادیه اروپا به افغانستان آمده بودند.

قرار است این افراد در دو گروه جداگانه بر روند آمادگی ها برای برگزاری انتخابات پارلمانی در تمامی ۳۴ ولایت کشور نظارت کنند.

آنها همچنین موظف خواهند بود بر مبارزات انتخاباتی نامزدهای انتخابات پارلمانی و شوراهای ولایتی نیز نظارت کنند که در ماه جاری رسماً آغاز خواهد شد.

قرار است اتحادیه اروپا بر اساس گزارش گروه های ناظر خود، تحلیل کلی از وضعیت انتخابات پارلمانی ارایه کند.

انتخابات پارلمانی و شوراهای ولایتی، قرار است در هفدهم سپتامبر (۲۷ سنبله) سال جاری برگزار شود.

این نخستین بار در پانزده سال گذشته خواهد بود که مردم افغانستان برای گزینش نمایندگان پارلمان کشور، به پای صندوقهای رای می روند.

برداری، برادرش را...

نیکزاد افزوده که پولیس قوماندانی امنیه ولسوالی انجیل، بصیر احمد را در منزلش دستگیر نموده و نامبرده به جرم خود اعتراف کرده است.

به گفته وی، علت این قتل اختلافات خانواده گی بوده و فامیل مقتول تا هنوز کدام ادعا و عکس العملی از خود نشان نه داده است.

با این حال، نثار احمد پیکار مدیر مبارزه با جرایم جنایی ولایت هرات، با تایید این خبر گفت که قضیه تحت تحقیق بوده، و جزئیات آن بعداً روشن خواهد شد.

تلاش برای اتحاد...

حاجی عبدالطیف، کاندید مستقل ولسی جرگه از ولایت ننگرهار که تاکنون با این اتحادیه یکجا نشده است میگوید که اگر این یکجا شدن کاندیدان مستقل در حقیقت به نفع شخص خاصي نباشد با آنها یکجا خواهد شد.

اما بعضی ها بالای هیچ اتحادیه به حیث اتحادیه مستقل، باور نمی کنند. محمد قادر، کارمند وزارت شهداء و معلولین میگوید که بدون حمایت دولت و خارج کسی نمی تواند که داخل میدان شود.

به باور وی، آنها نیز از طرف کسی به این کار تشویق شده اند.

انتقال سلاح سنگین...

احمد جان نو زادی مسوول امور مطبوعاتی دفتر آغاز نو افغانستان (NBP) گفت «قرار است در این دوره بطور مجموعی ۳۲ توپ وتانک انتقال یابد.»

سلاح های مذکور که در ساحات دشتک، فره و عنابه آماده انتقال میباشند، به فرقه ۲ جبل السراج غرض نگهداری منتقل خواهند شد.

قرار معلومات نوزادی، درمرحله قبلی جمع آوری سلاح سال گذشته در پنجشیر به تعداد ۱۱۰ توپ وتانک از این ولایت انتقال شده بود.

این برنامه به علت آب خیزی های اخیر که باعث قطع راه های موا صلاتی گردید، به تعویق افتیده بود.

به گفته نوزادی، بعد از انتقال این سلاح ها، در آیند ه نزدیک سروی مهمات نیز درآن ولایت آغاز خواهد شد.

قرار معلو مات مسوول مطبوعاتی برنامه آغاز نو افغانستان، اضافه از ۱۵ انجن راکت های دور برد رهبری شده نوع اسکاد نیز در ولایت مذکور موجود میباشد.

قرار اظهارات وی این انجن ها مملو از مواد کیمیاوی مایع زهرآگینی اند که در صورت مخلوط شدن مقدار کم آن با آب دریا، می تواند تمام آب دریا پنجشیر را به زهرملوث سازد.

وی، نگهدرای این را کت ها را در محل بودو باش مردم خطرناک توصیف کرد.

حاجی بهلول والی پنجشیر در ارتباط به انتقال سلاح به آژانس خبری پژواک گفته است:

«تاحال حدود ۹۵ درصد از سلاحهای ثقیله از ولایت پنجشیر به مرکز ازطریق برنامه آغاز نوافغانستان ANBP تسلیم داده شده است.»

وی علاوه نمودکه ذخیره ها و دیپو های مهمات را نیز غرض سروی و بررسی در اختیار مسؤولین برنامه ANBP خواهند گذاشت.

قرار معلو مات نوزادی، تا حال از سر تاسر کشور به تعداد ۱۰۸۸۸ دستگاه سلاح سنگین جمع آوری شده است.

د وارداتی مافیا لاس باید...

په هیواد کې له مسوولینو سره دهر ډول جوړ جاړی په رامنځته کیدو کې دداخلی تولید مخه نیسی.

دهیواد په اوسنیو شرایطو کې دولت دخلکو په وړاندې دنده لري چې ازاد بازار ته په ځارنه او کنترول سره دهیواد په دننه کې دکورنیو تولیداتو درامنځته کیدو او دهغو لپاره دبازار دپیدا کولو زمینه برابره کړي.

ځومره چې زموږ کورنۍ تولیدات رامنځته کیږي په هماغه اندازه باید په ورته تولیداتو باندې چې له بهر څخه راوړل کیږي دگمرک له لارې مالیه زیاته شي چې له یوې خوا د وارداتی مافیا لاس ونیول شي او له بلې خوا زموږ دخپلو تولیداتو دهڅونې، زیاتوالی او پلورنې په برخه دخلکو او هیواد په ګټه کار سرته ورسیږي.

دولت باید دواردا تی مافیا دناوړو اهدافو دسرته رسیدو په برخه کې چې داخلی تولیدونکی ځانګې په بیلابیلو پلمو له کاره غورځوی او د کار ګرانو د کار کولو مخه نیسي مخنیوی و کړی خو له دې لارې وکړای شو دخود کفایی په خاطر خپل صادراتی پله تر وارداتی درنه کړو او هیواد له دې خلاص کړو چې دنورو دتولیداتو لپاره بازار جوړ شي.

ملک فهد در گوری...

مراسم دعا در مسجد اعظم ریاض برگزار شد و طبق آداب فرقه وهابی، جنازه ملک فهد به سادگی در گوری بی نشان در گورستان عمومی شهر به خاک سپرده شد. عربستان سعودی در چند سال اخیر شاهد حملات گروه های پیکار جو از جمله بمب گذاری در مراکز تردد خارجیان بوده است و تدابیر امنیتی خاصی در طول مراسم سوگواری پادشاه سابق این کشور به اجرا گذاشته می شود.

دیروز چهارشنبه آغاز سلطنت عبدالله بن عبدالعزیز به عنوان پادشاه جدید سعودی اعلام شد.

چندین کشور از جمله کویت، عراق، پاکستان و هند به مناسبت درگذشت پادشاه سابق سعودی عزای عمومی اعلام کرده و رهبران بسیاری از کشورها از وی تجلیل به عمل آورده اند.

با توجه به سلسله مراتب خاندان سعودی، با اعلام رسمی امیر عبدالله به عنوان پادشاه و صدراعظم، امیر سلطان به عنوان ولیعهد و نایب اول صدراعظم معرفی خواهد شد.

د پاکستان سرحدي...

د سرحدي خواکونو دچارواکو په وینا، نوموړي افغانان له لومړنیو پلټنو څخه وروسته دپاکستان تحقیقاتي اداري FIA ته سپارل شوي دي او دهغوي لخوا له نورو پلټنو وروسته به دوی په نا قانونه توګه پاکستان ته د راوړیدو په تور محکمې ته وړاندې شي.

په پاکستان کې دملګرو ملتونو دکډوالو دعالي کمشنري ویاند بابربلوچ ویلي چې دا ددواړو هیوادونو (افغانستان، پاکستان) سرحدي ستونزه ده او دواړه هیوادونه باید دا ستونزه حل کړي. ده زیاته کړه: «دسرحدونو دبین المللي قانون له مخې پاکستان دا حق لري چې خپلې خاورې ته په غیر قانوني توګه درانوتونکو مخه ونیسي.»

افزایش شدید حملات...

از زمان حملات انتحاری روز هفتم جولای بیش از ۲۷۰ مورد حادثه در شهر لندن روی داده است که جزو جرایمی که انگیزه آنها تفرت مذهبی است طبقه بندی شده است. این رقم در دوره مشابه سال گذشته ۴۰ مورد بود. این جرایم عموما حملات لفظی یا فزیکی خفیف و خرابکاری بود که مسلمانان را هدف می گیرد.

آقای طارق غفور می گوید او بیمناک است که این حملات باعث شود جامعه مسلمانان به جای تعامل با پولیس برای ریشه کنی افراط گرایان، در خود فرو رود.

وی افزود که او هرگز شاهد این اندازه خشم در میان جوانان مسلمان نبوده است که از جمله ناشی بازرسی هادرجاده ها و شیوه های دیگر پولیس برای جلوگیری از بمبگذاری های انتحاری است.

ملمند کې د ټاکنو د دفتر...

دهلمند ولایت اداري رئیس حاجي غلام محي الدین ویلي چې د ټاکنو ددفتر دعامه پوهنې یو تن کارمند حاجي قیوم خان تیره ورځ مازدیګر ددفتر ځخه کور ته روان و، چې په لاره کې په یو سراچه موټر کې سپوروو ځلور تنو نامعلومو وسله والو پرې ډزې وکړې.

ده زیاته کړه چې نوموړي ځلور تنه حمله کوونکي د قیوم خان دوژنې په تور نیول شوي خو دا معلومه نده چې کومې ډلې پورې تړلي دي خو دپلټنو لاندې دي. په کندهار ولایت کې د ټاکنو دګډ دفتر افغان مسوول محمد قاهر واصفي پژواک خبري آژانس ته ویلي چې دحاجي قیوم خان په نوم ددوی یو کارمند په هلمند کې وژل شوی دی.

ده زیاته کړه چې دهغه پر ځای یې یو بل تن مقرر کړی دی او ددوی کارونه دهغکې په ځیر روان دي.

د امریکی نوی...

امریکا به ددې دریو تنو د نیولو دپاره دا ځل نوې کړنلاره اختیاروي او ددواړو هیوادونو (پاکستان - افغانستان) دسرحدي سیمو له اوسېدونکو ځخه به دپورتنیو دریو تنو په نیولو کې دزیاتې مرسته غوښتنه کوي په پاکستان کې دامریکا سفارت ته ډیرو نږدو سرچینو پژواک خبري آژانس ته ویلي: «دنړۍ او افغانستان د ثبات ددریوو تنو دښمنانو دنیولو لپاره مطبوعاتي کمپاین به سر له راتلونکې او نې ځخه په کندهار، هرات، مزارشریف، کابل، پکتیا او خوست کې پیلیږي.»

ددې سرچینې په وینا، د زمري له ۲۵مې ځخه به دغه کمپاین جلال آباد او کونړ کې هم پیل شي. دې سرچینې وویل چې داکمپاین به مطبوعاتي وي، د تلویزیون، راډیو ګانو دمکتبونو استاذان، ملاامامان، د PRT دټیمونو وګړي، اخبارونه، مجلې، او نورداسې وسایل به دبن لادن، ظواهري، او ملامحمدعمر دنیولو لپاره اشتهارات او اعلانونه خپروي خو په کابل کې دائتلافي ځواکونو ویاندې سنډي مور وویل چې ددې دمعلوماتو له مخې اوس مهال یوازې دراډیو او تلویزیونونو له لارې دنوموړو کسانو دنیولو لپاره اشتهارات خپریږي.

هغې په دې کمپاین کې دتولنې دنورو وګړو لکه ملا امامانو، ښوونکو، زده کوونکو او نورو دګډون په اړه ناخبري وښوده.

دامریکا دسفارت سرچینو په وینا، دا اشتهارات به په پښتو او دري بر سېره په نورو ژبو لکه، اردو، چترالي او پنجابي هم خپریږي.

منبع وویل چې اشتهاراتو کې به په کابل او اسلام آباد د امریکا د سفارتخانو د تیلیفون نومرې وي، او دبن لادن، ملاعمر، اوظواهري دنیولو یا ددوی په اړوند د معلوماتو ورکولو لپاره د تماس لارې چارې به په ګوته کیږي.

اهالی کشک کهنه ...

آنها که به ادعای خود شان چهل نفر بوده و از یکماه بدینسو در شهر هرات به سر میبرند و به والی هرات نیز شکایت نموده اند، میگویند که محمد آصف جمشیدی ولسوال کشک کهنه مردم محل را تهدید و لت و کوب مینماید که باید برای سه نفرازخویشاوندانش که کاندید انتخابات پارلمانی اند، رای بدهند.

ارباب نورالدین باشنده قریه خواجه شهاب ولسوالی کشک گفته است: «که افراد ولسوال درقریه ها اعلان میکنند که مردم باید به اقوامش رای بدهند و اگر به کس دیگری رای دادند آنها را لت و کوب و زندانی خواهند کرد.»

ارباب نورالدین از شکیب جمشیدی برادرزاده ولسوال و همچنان کاکا و دختر عمه ولسوال که آنها کاندید ولسی جرگه وشورای ولایتی میباشند نام برده افزود که ولسوال میخواهد رای مردم را جبرا برای این سه تن به دست آورد.

ارباب فرامرز (کوکلم) که خود را نماینده قریه خواجه امیر کشک میداند، اظهارداشت: «در قریه ما هرروز توسط ولسوال بصورت آزاد گفته میشود که هیچ کس حق ندارد که بدیگر کاندیدان رای بدهد.»

به ادعای وی، این تهدید ها توسط پدر ولسوال نیز صورت میگیرد.

اما محمد آصف جمشیدی ولسوال کشک کهنه در حالیکه کاندید بودن سه تن متذکره را تائید می نماید، میگوید که او هیچگاهی مردم را لت و کوب ویا تهدید نه نموده و مردم میتوانند آزادانه به هر کسی که خواسته باشند، رای بدهند.

جمشیدی به پژواک گفته است: «درست است که برادر زاده و دیگر اقوامم کاندید هستند ولی من هیچگاه برای مردم نگفته ام که برای کی رای بدهند، آنها میخواهند مرا بد نام کنند و به علت اینکه من رشوت نمی گیرم وقانون را مراعات می کنم بر من تهمت می بندند.»

به ادعای ولسوال کشک، آنهایی که علیه او اعتراض نموده اند، کسانی اند که وابستگی به ولسوال قبلی کشک داشته ونمیخواهند که اقارب او در مبارزات انتخاباتی سهم داشته باشند.

با این حال محمد صبوری سکرتر سید حسین انوری والی هرات میگوید که اگر ادعا های مردم کشک کهنه درست باشد، آنها ولسوال را برکنار خواهند کرد.

وی افزود که والی هرات با اعتراض کننده گان دیدارنموده و بعد از آن، معاونش را توظیف نموده که به شکایات آنها رسیده گی نماید.

۱۹ کرسی برای شورای ولایتی و ۱۷ کرسی برای ولسی جرگه در ولایت هرات از طرف دفتر مشترک تنظیم انتخابات برای انتخابات ۲۷ سنبله سال جاری اختصاص داده شده است.

ولسوالی کشک در تقریباً ۱۴۰ کیلومتری شمال هرات با داشتن هفتادو پنج هزار نفوس موقعیت دارد.

ارادہ
زیرنظر هیات تحریر انتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب دیدار
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com
قیمت یک شماره ۳ افغانی